**<u>اعلامیه</u>**

# د فلسطین د قضیې په اړه له خپل اصلي مکلفیته مه لرې کېږئ!

د مسلمانانو لپاره د یهودي دولت د ستونزې پر بنسټیز حل دسیسه‌اي تحلیلونو سیوری غوړولی او د اصلي ستونزې او حللارې مسیر یې منحرف کړی. حقیقت دا دی چې فلسطین د مسلمانانو ځمکه ده چې یهودانو اشغال کړې. اسلامي امت باید د دغې مبارکې خاورې د ازادلو غږ پورته کړي او اسلامي لښکرې مکلفې دي چې له ځنډ پرته د خپل دغه مکلفیت د ترسره کولو لپاره عملي ګام پورته او حرکت وکړي.

د مسلمانانو وسلوال ځواکونه دا وړتیا لري چې یوازې په څو ساعتونو کې دغه ډارن یهودي ځواکونه له منځه یوسي؛ خو د مسلمانانو خاینو واکمنانو د خپلې بې کفایتۍ، ویرې او واشنګټن ته د چاپلوسۍ او غلامۍ له امله له یهودي دولت څخه امنیتي دېوال چاپېر کړی دی. دوی دغه ناسم فکر جوړ او خپور کړی چې ګواکې دغه تر ټولو ډارن خلک، یهودان، نه ماتېدونکي دي. خو د فلسطیني اتلانو وروستي برید یو ځل بیا د یهودي دولت د امنیتي وسایلو کمزوري په ډاګه کړه. پر اسلامي لښکرو واجب ده چې دمسلمانانو او کفارو ترمنځ د جګړې په وخت کې دمسلمانانو په ملاتړ له ځنډ پرته د جګړې ډګر ته راودانګې، ځکه چې اسلامي لښکرې د دغه کار توان لري.

یهودي دولت له لسیزو راهیسې د فلسطین د مبارکې خاورې پر مسلمانانو ظلمونه کوي. په دې موده کې د دې پر ځای چې واکمنان پر اصلي ستونزې او واقعي حللاره تمرکز وکړي؛ د خپلو بادارانو په اشاره د قضیې اصلي اړخ په دې خبرو چې څوک له چا سره دي؛ اوس جګړې ته اړتیا څه ده او دا چې دغه عملیات به یهودي دولت لا ډېر وحشت ته تحریک کړي؛ د خلکو له سترګو پناه کوي.

دوی له دې لارې د وسله والو ځواکونو لخوا د فلسطین د سمدستي ملاتړ مخه نیسي. اوس د دې وخت دی چې ټول تمرکز له یهودي دولت سره د مسلمانو وسله‌والو ځواکونو په ښکېلولو وشي. دوی ته باید د دې قضیې په اړه خپل مکلفیت ورياد شي، ترڅو سمدستي د فلسطین د ازادۍ لپاره وخوځیږي او په دې ډول له یهودي دولت څخه د فلسطین د مبارکې خاورې د پاکولو او ازادولو ویاړ ترلاسه کړي.

الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا اللهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ]**

**ژباړه:** اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی؛ که د الله سبحانه وتعالی نصرت وکړئ، هغه سبحانه وتعالی به ستاسو نصرت وکړي او قدمونه به مو ټينګ او ثابت کړي. [محمد:۷]

**د حزب التحرير۔ ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د ربیع الاول ۲۵مه**

**۲۰۲۳م کال، د اکتوبر ۱۰مه**

**د صدور ګڼه:۴۵/۱۳**